مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې لومړۍ | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۳مه | ٤۳۲مه گڼه

# ټاکنیز کمېسیونونه: د ټاکنو پر مهال به هېڅ ډول کورني او بهرني فشار ته تسلیم نه شو



۳

## سوله او د طالبانو سیمه ییزه ډیپلوماسي
۲ مخ

## د سعودي او ایران ترمنځ مخامخ جگړه کېدلی شي؟
۲ مخ

## د مالي خپلواکۍ لپاره د رابرټ کیوساکي نهه درسونه
۳ مخ

## د ملا برادر په مشرۍ د طالبانو نهه کسیزه پلاوی د سولې په تړاو د خبرو لپاره چین ته تللی دی

طالبانو ویلي چې د دې ډلې د سیاسي مرستیال ملا برادر په مشرۍ یو نهه کسیز پلاوي چین ته سفر کړی دی.

د وسله والو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته په رالېږلې خبرپاڼه کې ویلي چې دغه پلاوی له چینایي چارواکو سره په افغانستان کې د جگړې د پای ته رسېدو په موخه د خبرو لپاره دغه هېواد تللی دی.

په خبرپاڼه کې راغلي، د چین په پلازمېنې بیجنگ کې د افغانستان لپاره د چین د ځانگړي استازي ډین شیجون او ورسره لوړپوړي هیئت لخوا د طالبانو استازو ته هرکلی ویلی شوی دی.

سرچینه کاږي، له چینایي لوړپوړو چارواکو سره د طالبانو د پلاوي لیدنې کتنې روانې دي، دواړه خواوې به له افغانستان څخه د بهرنیو پوځیانو د ویستلو، د سیاسي او اقتصادي اړیکو او همدا ډول په افغانستان او سیمه کې د سولې او ټیکاو په اړه خبرې او بحثونه وکړي.

سرچینې زیاته کړې، ملا برادر چینایي چارواکو ته له امریکایي جهت سره د مذاکراتو د بهیر په اړه د طالبانو دریځ روښانه کړی چې د چینایي چارواکو لخوا د دوی د دریځ ملاتړ شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو دوو اونیو کې د طالبانو د قطر دفتر دوو پلاوو روسیې او ایران ته هم سفرونه کړي دي. د یادونې ده چې څه موده مخکې په کابل کې له ځانمرگي برید وروسته چې په ترځ کې یې د یوه امریکایي په گډون، دوه د ناټو سرتېري او لس افغانان ووژل شول، له هغه وروسته د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه کړې.

## شکایتونو کمېسیون: له ټاکلې مودې وروسته له نوماندۍ تېرېدونکي کاندیدان جریمه کېږي

۲ مخ

هېواد
۴ مخ

## سریلانکا

د سریلانکا ۳۵ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هېواد نهه سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکتور څخه لاس ته راځي.



## په هلمند کې د ۱۸ میلیونو افغانیو په لگښت د اوبو سربند گټې اخیستنې ته وسپارل شو



د هلمند په ناوې ولسوالۍ کې د ۱۸ میلیونو افغانیو په لگښت یو سربند چې د ۱۷ زره هکتاره ځمکې خړوبولو وړتیا لري، له جوړېدو وروسته گټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

په دې تړاو نیول شوو مراسمو ته د هلمند مرستیال والي مجاهدالله صفاري ویلي چې دغه سربند د ناوې ولسوالۍ په شملان سیمه کې جوړ شوی دی.

ده ویلي چې د دغه سربند پر جوړېدو څه باندې ۱۸ میلیونه افغانۍ لگول شوې او چارې یې د یو کال په موده کې بشپړې شوې دي.

د نوموړي په خبره، له دغه سربنده ۱۷ زره هکتاره ځمکه خړوبېږي چې څه باندې ٦٦ زره کورنۍ به ترې گټه پورته کوي.

هغه زیاته کړې: «دا یو مهم سربند دی، گڼو کروندگرو ته به په اساسي ډول اوبه رسېږي او ترڅنگ به یې د اوبو د بېځایه مصرف مخه هم نیول کېږي».

## وکلا: تدارکات ملی تمامی پیمان‌ها را در انحصار خود گرفته‌است و به هیچ نهادی پاسخ‌گو نیست



رئیس‌جمهور غنی از کارکردهای کمیسیون تدارکات ملی دفاع می کند و می‌گوید که این نهاد در یک سال اخیر ۱۹۰ نشست برگزار کرده‌است که هفده میلیارد افغانی در پیمان‌ها صرفه‌جویی شده‌است.

آقای غنی تأکید دارد که کمیسیون تدارکات ملی، برای صرفه‌جویی و شفافیت در پیمان‌ها بسیار مؤثر بوده‌است.

این در حالی است که مایک پومپیو، وزیرخارجهٔ ایالات متحده به روز پنج‌شنبهٔ گذشته، گفت که ۱٦۰ میلیون دالر کمک‌های ایالات متحده به افغانستان را بدلیل وجود فساد در کارهای کمیسیون تدارکات ملی، برگشتانده‌است.

در همین حال عظیم محسنی، رئیس کمیسیون مالی و بودجهٔ ولسی جرگه نیز رئیس‌جمهور غنی را بدست داشتن در فساد متهم می‌سازد، می گوید که رئیس جمهور هم‌چون رئیس کمیسیون تدارکات ملی تمامی پیمان‌ها را در انحصار خود گرفته‌است و برخلاف قانون به هیچ نهادی پاسخ‌گو نیست.

محسنی، از تحریم شرکت در نشست‌های کمیسیون تدارکات ملی از سوی خودش نیز خبر می‌دهد: «هر فیصله‌یی را که تدارکات ملی می کند، بالای فیصلهٔ آن نه ارگان‌های عدلی و قضایی، نه پارلمان، نه حکومت؛ هیچ کس نمی‌تواند فیصله صادر بکند».

عبدالظاهر تمیم، عضو ولسی جرگه نیز بیان داشت: «بدبختانه که در این اواخر شواهد و دلایلی وجود دارد که قلب فساد همان تدارکات ملی است که مدیریت آن را آقای اشرف غنی به عهده دارد».

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دريـــځ

### سوله او د طالبانو سيمه ييزه ډيپلوماسي

په دوحه کې د افغان طالبانو د سياسي دفتر مشر ملا برادر په مشرۍ د دې ډلې يو نهه کسيز پلاوی چين ته رسېدلی دی. طالب وياند مني چې پلاوی يې په چين کې دی او هلته له چينايي چارواکو سره د افغان سولې او شوو مذاکراتو په تړاو بحث کوي. تر دې وړاندې د طالبانو يو پلاوی روسيې او بل پلاوی يې ايران ته هم تللي وو او هلته يې د سولې د ځنډول شوو مذاکراتو او اړوندو مسايلو په تړاو د دغو هېوادونو له چارواکو سره خبرې کړې وې.

د مذاکراتو له ځنډول کېدو وروسته، ټرمپ پر طالبانو د پراخو او بې سارو بريدونو خبره کړې ده. پر طالبانو نظامي او سياسي فشار زياتېږي، خو طالبان هم لاس تر زنې نه دي ناست. په کور دننه ډېر بريدونه کوي او په نړيواله کچه هم پر امريکا د فشار راوړلو هڅه کوي. روسيې، چين او ايران ته د طالبانو سفرونه په واضح ډول پر امريکا د فشار او د خپل دريځ د پياوړي کولو هڅه ده. طالبانو له چينايي چارواکو سره د ليدنو په اړه ويلي چې له امريکايانو سره د سولې د خبرو په برخه کې د چين حکومت د طالبانو د دريځ ملاتړ کړی دی. ښايي ډېر نور پټ څه هم شوي وي، چې رسنيو ته يې په اړه څه نه ويل کېږي.

که څه هم له طالبانو سره د چين، روسيې او ايران پخوانۍ اړيکې ښې نه وې، خو د وروستيو کلونو بدلونونو له دوی سره نږدې کړل. پر امريکايي تګلارو او جګړو بې باورۍ، شکونو او د داعش پروژې دغه هېوادونه اړ کړل، چې له طالبانو سره نږدې شي، اړيکې ورسره جوړې کړي او ملاتړ يې وکړي. د سياسي ملاتړ انکار هېڅوک نه کوي، خو د نظامي مرستې په اړه يوازې ادعاوې دي او داسې څه اسناد نه دي وړاندې شوي چې دا ادعاوې ثابتې شي. په سياسي برخه کې د طالبانو ملاتړ زيات شوی، چين او روسيه دواړه په واضحو ټکو د سولې په چاره کې د طالبانو د دريځ ملاتړي دي. طالبان غواړي چې امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او دلته هېڅ ډول حضور ونه لري. همدا د چينايي او روسي چارواکو غوښتنه هم ده. دوی دلته د امريکايي ځواکونو له حضور او فعاليتونو وېره لري. له همدې امله اوس په پټه نه، په ښکاره وايي چې دا ځواکونه بايد له افغانستان څخه ووځي. د روسيې او چين دا نظر د طالبانو دريځ پياوړی کوي او له همدې څخه د خپل ځواک لپاره ګټه اخلي.

د طالبانو په سيمه ييزه ډيپلوماسۍ کې د دوی رول يو طرف ته، خو د امريکا تګلارې او پټ اهداف د دې سبب شوي چې شکونه او انديښنې زياتې شي او امريکا په افغانستان کې د خپل حضور لپاره پخوانی ملاتړ له لاسه ورکړي. اوس چې طالبان له روسيې، چين او ايران سره نږدې کېږي، دا پر امريکا يو واقعي فشار دی او امريکايي لوری به مجبور شي چې بېرته خبرو ته را وګرځي. که چين او روسيه اوس له طالبانو سره نظامي مرستې نه کوي، خو د جګړې د اوږدېدو په صورت کې د دې شونتيا شته، ځکه چې چين او روسيه د افغان جنګ دوام د خپلو ګټو پر ضد د جنګ دوام ګڼي. له همدې امله له نظامي مرستې نيولې، تر نورو سياسي کړنو، هر څه ته لاس اچولی شي او دا به بيا د امريکا لپاره په افغانستان کې سياسي او نظامي فضا تنګه کړي.

# د سعودي او ايران ترمنځ مخامخ جگړه کېدلی شي؟

بي بي سي- پښتو

له څو لسيزو راهيسې د سعودي عربستان او ايران ترمنځ لانجې روانې دي. دوی يو د بل زاړه دښمنان دي، خو په دې وروستيو کې يې ناندرۍ زياتې شوې دي. د دې دښمنۍ شاليد او لاملونه څه دي؟ لاندې يې ځينو ته اشاره شوې.

**ولې ايران او سعودي پر يوه لار نه ځي؟**

ايران او سعودي عربستان دوه ستر ځواکمن ګاونډيان دي او هر يو په سيمه کې د برلاسۍ کوښښ کوي.
د دوی ترمنځ له لسيزو راهيسې د جنجالونو زياتوالي يو لامل مذهبي اختلافات هم دي. دا دواړه هېوادونه د اسلام د دوو څانګو پيروان دي. په ايران کې شيعه وګړي اکثريت دي، په داسې حال کې چې سعودي عربستان ځان د سني مسلمانانو مشر بولي.
دا مذهبي شخړې په ټول منځني ختيځ کې خورې شوې دي، په دې مانا چې په کوم هېواد کې شيعه وګړي ډېر وي، نو هغه له ايران مرسته او لارښوونه غواړي، که سنيان ډېر وي، هغوی سعودي عربستان ته ګوري.
د تاريخ له مخې د سعودي له ځمکې د اسلام دين پيل شو او دا هېواد ځان ته د مسلمانانو د مشر په توګه ګوري، خو دا حالت په ۱۹۷۹ ميلادي کال کې په ايران کې له اسلامي انقلاب وروسته بدل شو. هلته يو نوی (مذهبي انقلابي) دولت جوړ شو او ايران غواړي چې خپل نظام له خپلو پولو بهر هم خپور کړي.
په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې د امريکا په مشرۍ، په عراق کې د ولسمشر صدام حسين حکومت وپرځېد. صدام حسين سني عرب مشر و او همدارنګه د ايران مخالف هم و. له دې سره په سيمه کې د ايران پر ضد يو ستر پوځي ځواک هم ختم شو. دا وخت نو په بغداد کې د شيعه ډلو لخوا د حکومت جوړولو ته لار پرانيستل شوه.
اوس به راشو په منځني ختيځ کې به د ۲۰۱۱ ميلادي کال د بدلونونو خبره وکړو. په دې کال کې د ځينو عربو هېوادونو په ګډون، په سيمه کې ولسي پاڅونونه او سياسي بدلونونه رامنځته شول چې ټوله سيمه يې اغېزمنه کړه. ايران او سعودي عربستان ته فرصت په لاس ورغی او په سيمه کې يې د خپل اغېز ډېرولو هڅه پيل کړه، په ځانګړي ډول په شام يا سوريه، بحرين او يمن کې.
د ايران مخالفان وايي چې تهران په سيمه کې د ځان يا د خپل پلوو ډلو د واکمنولو په لټه کې دی او په دې توګه غواړي له ايرانه د روم تر سمندره داسې ځمکنۍ لاره جوړه کړي، چې کنټرول يې له تهران سره وي.

**خبره چېرته خرابه شوه؟**

ايران څو ځله په سيمه کې په خپله پاليسۍ کې بريالی شوی دی او دا له سعودي سره د سياليو دې ډېرېدو يو دليل هم دی. په سوريه کې د ايران او روسيې په ملاتړ ولسمشر بشارالاسد سعودي پلوه وسلې والې ډلې وځپلې.
سعودي عربستان جدي هڅې کوي چې د ايران د نفوذ د زياتېدو مخه ونيسي، په داسې حال کې چې د سعودي ځوان شهزاده محمد بن سلمان لخوا پوځي اقدام په سيمه کې تاوتريخوالی زياتوي. هغه په يمن کې د حوثي ياغيانو پر ضد د جنګ اعلان کړی او غواړي هلته د ايران اغېز ختم شي، خو د څلورو کلونو په تېرېدو اوس ښکاري چې دا ګام ورته په لوړه بيه تمام شو.
ايران د نړيوالو دا تور ردوي چې ګواکې تهران حوثي ياغيانو ته وسلې ورکوي او ملاتړ يې کوي. خو ملګري ملتونه په خپل راپور کې دې پايلې ته رسېدلي چې تهران د حوثي ياغيانو ملاتړ کوي. د لبنان حزب الله شيعه ډله هم د ايران له ملاتړه برخمنه ده او له سياسي ځواک سره سره وسله وال ځواک هم لري.
ډېرى شنونکي ادعا کوي چې په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې سعودي عربستان د دې هېواد لومړی وزير سعد حريري استعفا ته اړ ايست، سره له دې چې رياض د نوموړي ملاتړ کاوه. سعوديانو دا ګام ځکه واخيست، چې په سيمه کې د کړکېچ اصلي لامل خپله د حزب الله ډله وه. سعيد حريري وروسته بېرته لبنان ته ستون شو او خپله استعفا يې وځنډوله.
په دې سيالۍ کې بهرني اړخونه هم ښکېل دي. په امريکا کې د ټرمپ اداره د سعودي عربستان ملاتړ کوي. اسرائيل هم ايران ځان ته يو ګواښ بولي او له همدې کبله د سعوديانو ترخنګ ولاړ دي.
په ۲۰۱۵ ميلادي کال کې سعودي عربستان او اسرائيل له ايران سره د نړيوالې ټولنې د اټومي تړون سخت مخالفت وکړ او ويې ويل چې دا به د ايران اټومي وسلې تر لاسه کولو او بمونو جوړولو شونتيا کمه نه کړي.

**سيمه ييز متحدين څوک دي؟**

د منځنې ختيځ نقشه همداسې د شيعه ګانو او سنيانو تر منځ وېشلې معلومېږي. د خليج پر څنډو د متحده عربي اماراتو، بحرين او مصر په څېر هېوادونه دي، چې د سعودي ملاتړي دي.
بل لور ته د سوريې بشارالاسد د ايران د دوستانو په ډله کې شامل دی، چې د لبنان د حزب الله غونډې ايران دوسته شيعه ملېشو ملاتړ ورسره دی.
د حزب الله وسله وال له سني ياغيانو سره مخامخ جګړه کوي.
د عراق حکومت هم د ايران ملاتړ کوي، چې اکثريت غړي يې شيعه ګان دي، خو د عراق حکومت له واشنګټن سره هم تودې اړيکې لري او د امريکا په ملاتړ يې له داعش ډلې سره جګړه وکړه.

**د دښمنۍ پايلې څه دي؟**

دا د بېلابېلو لامونو له کبله د امريکا او شوروي اتحاد د پوځي سيالۍ په څېر سړه جګړه ده، چې کلونه کلونه يې دوام وکړ. ايران او سعودي له يوه بل سره مخامخ جګړه نه کوي، خو د سيمې په ځينو نيابتي جګړو کې ښکېل دي او د خپلو پلوو ملېشو ملاتړ کوي.
د سوريې بېلګه ټولو ته معلومه ده او بل لور ته سعودي عرب پر ايران تور لګوي چې د يمن حوثي ياغيانو ته بلاسټيک توغندي ورکوي، چې پر سعودي عرب يې ګوزارونه کېږي. پر ايران دا تور هم لګېږي چې په خليج کې يې د خپل زور ښودلو هڅې کړې دي. دا هغه سيمه ده چې سعودي عربستان له همدې ځايه ټولې نړۍ ته خپل نفت يا تېل استوي. امريکايي چارواکو ويلي، په دې وروستيو کې د تېلو پر باري بېړيو د بريدونو تر شا د ايرانيانو لاس و، خو ايران دغه تورونه رد کړي دي.

**د ايران او سعودي عرب تر منځ مخامخ جګړه کېدونکې ده؟**

تهران او رياض تر اوسه نيابتي جګړه کړې ده. دواړه هېوادونه مخامخ جګړې ته چمتو نه دي، خو که حوثي ياغيان د سعودي پر پلازمېنه بريد وکړي يا د وروستيو بريدونو په څېر مهم اقتصادي مرکزونه په نښه کړي، کېدای شي چارې له کنټروله بهر شي.
د سعودي عربستان پر مهمې اقتصادي اډانې د حوثيانو بريدونو د تهران او رياض تر منځ اړيکې نورې هم خړې پړې کړې دي. دغه راز د خليج پر سمندري پوله چې دواړه لوري له يوه بل سره مخامخېږي، د ډېرېدونکي تاوتريخوالي له کبله لويه جګړه هم پيلېدای شي.
د امريکا او لوېديځ لپاره په خليج کې د تګ راتګ ازادي مهمه موضوع ده او د داسې هرې نښتې يا جنجال له کبله چې سمندري لارې له بحران سره مخامخوي، د امريکايي هوايي ځواک د خوځښت سبب کېدای شي.
د تېلو د نړيوال لېږد رالېږد لپاره دغه لارې مهمې دي.
امريکا او متحدين يې له کافي مودې راهيسې ايران ته د يوه داسې ځواک په نظر ګوري، چې ګواکې غواړي په منځني ختيځ کې امنيت او ټيکاو ګډوډ کړي.
د سعودي حکومت لپاره ايران يو خطر دی او داسې انګېرل کېږي چې سعودي شهزاده د ايران د اغېز د مخنيوي لپاره هر ډول اقدام ته چمتو دی.
د تېلو پر وروستيو چڼځايو وروستيو بريدونو د سعودي عربستان کمزوري برالا کړه او دې دواړو لورو تر منځ د جګړې احتمال د يوه پلان شوي پروګرام پر ځای، پر يوه ناڅاپي پېښه پورې غوټه دی. خو د سعودي يرغلګريزه پاليسي او په سيمه کې د ټرمپ حکومت د پاليسۍ په تړاو ابهام هم په سيمه کې د ياد تاوتريخوالي لاملونه دي.

## وکيلان: په هلمند کې د داعش ډلې تازه فعاليتونه د انديښنې وړ دي

په ولسي جرګه کې د هلمند استازو ويلي چې داعش وسله والې ډلې د دغه ولايت په شمالي ولسواليو کې د جلب او جذب پروسه پيل کړې چې دوی يې سخت انديښمن کړي دي.
په ولسي جرګه کې د هلمند استازي ميرويس خادم پژواک خبري اژانس ته ويلي چې په دې وروستيو کې داعش وسله والې ډلې د دغه ولايت په شمالي ولسواليو کې د ذاکر قيوم په مشرۍ د جلب او جذب بهير پيل کړی دی.
د يادونې ده چې د هلمند په شمال کې موسی کلا، نوزاد، کجکي، سنګين، واشير او باغران ولسوالۍ پرتې دي.
نوموړي ويلي: «څو کاله مخکې هم داعش ډلې فعاليت پيل کړی و، خو کله يې چې مشر مړ شو، نو دغه ډله بيا له منځه ولاړه، خو اوس يې بيا جلب او جذب پيل کړی دی».




د ده په خبره، اوس تازه يو ځل بيا په دغه ولايت کې د داعش د شتون په اړه انديښنې را ولاړې شوي چې د يوې نوې جګړې پيل ښيي.
په ورته وخت کې په ولسي جرګه کې د هلمند بل استازي غلام ولي افغان هم ويلي چې د داعش وسله والو د دغه ولايت په شمالي ولسواليو کې د جلب او جذب ترڅنګ، يو لړ پوځي تمرينات هم پيل کړي دي. هغه ويلي چې اړوند مسوولين بايد ژر تر ژره په دغه ولايت کې د داعش ډلې د فعاليتونو مخه ونيسي.
بلخوا د هلمند د شمالي ولسوالۍ موسی کلا اوسېدونکي عبدالهادي پژواک ته ويلي: «موږ خبر شوي يو چې داعش غواړي کسان ونيسي، مخه يې بايد ژر حکومت ونيسي؛ ځکه نور موږ جګړه نه غواړو».
خو بل لور ته د هلمند والي محمد ياسين خان د يادو څرګندونو په ځواب کې ويلي چې دا مهال په دغه ولايت کې په هېڅ صورت داعش وسله وال شتون نه لري.
والي ويلي: «زموږ د استخباراتي معلوماتو له مخې، داعش غواړي په دغه ولايت کې جلب او جذب پيل کړي».
خو محمد ياسين خان ويلي، حکومتي ځواکونه کوښښ کوي چې په دغه ولايت کې د داعش او نورو وسله والو ډلو د فعاليت مخه ونيسي.
د يادونې ده چې وسله والو طالبانو په هلمند کې د داعش د فعاليت په اړه څه نه دي ويلي، خو له دې مخکې يې ويلي وو، په کومو سيمو کې چې طالبان وي، هلته د داعش د هر ډول فعاليت مخه نيسي.

# ټاکنیز کمېسیونونه: د ټاکنو پر مهال به هېڅ ډول کورني او بهرني فشار ته تسلیم نه شو



ټاکنیز کمېسیونونه وايي، دوی خپل کار په پوره شفافیت تر سره کوي او په ټاکنو کې به هېڅ کورني یا بهرني فشار ته تسلیم نه شي. تازه ټاکنیزو کمېسیونونو یوه هوکړه لاسلیک کړې چې له مخې یې همغږي زیاتېږي او هڅه به کېږي چې په گډه د ټاکنیزو درغلیو او عدم شفافیت مخنیوی وکړي. د ټاکنیزو کمېسیونو ترمنځ د دې هوکړې د لاسلیک پر مهال مسوولانو ویلي چې هېڅ کورني او بهرني فشار ته به تسلیم نه شي.

سره له دې چې لا هم د ټاکنو د شفافیت په اړه اندېښنې موجودې دي او ولس دا وېره لري چې ښایي رایه یې ځای ونه نیسي، تازه د ټاکنیزو کمېسیونونو مشران وايي چې حق به حقدار ته رسوي. د دوی په خبره، هېڅ کورني یا بهرني فشار ته نه تسلیمېږي او شفافو ټاکنو ته ژمن دي. د ټاکنیزو کمېسیونونو مسوولانو یوې گډې خبري ناستې ته وویل، چې د دواړو لورو ترمنځ دا تفاهم لیک له دوی سره د شفافو ټاکنو د تر سره کېدو په برخه کې مرسته کوي.

د ولسمشرۍ ټاکنو تر سره کېدو ته د گوتو په شمار ورځې پاتې او انتخاباتي کمېسیونونه ډاډ څرگندوي، چې د میزان په شپږمه ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدو ته پوره چمتووالی لري. د ټاکنیزو کمېسیونونو له دې څرگندونو، چې گواکې هېڅ راز کورني یا بهرني فشار ته به تسلیم نه شي، ښکاري چې ځینې کړۍ غواړي د دغه کمېسیون پر کړنو نفوذ ولري. تر دې وړاندې هم په ولس کې دا وېره وه، چې ښایي ټاکنې وشي، خو د تېر په څېر یې پایلې د یوه درېیم هېواد د استازي له لوري روښانه شي. خو تازه ټاکنیز کمېسیونونه د فشار د نه منلو ډاډ ورکوي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون رییسه وايي، دوی ژمن دي چې شفافې ټاکنې تر سره کړي او د دغه ټاکنو په لار کې ټول خنډونه له منځه یوسي. زهره بیان شینوارې وايي: ((په دې توگه به موږ په خپلو چارو کې نوره همغږي هم رامنځ ته کړو. موږ به د چا فشار و نه منو او ټاکنې به د خلکو د باور وړ وي)).

د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسه بیا وايي چې دوی د ټاکنو لپاره ټول اړین تدابیر نیولي دي او ټاکنې به په خپل وخت تر سره کېږي. د حوا علم نورستانۍ په خبره، کمېسیون ټولې چارې مهالوېش ته په کتو تنظیم کړې دي او امنیتي ادارې پوره همغږي ورسره لري. نوموړې وايي: ((موږ ټاکنو ته ټوله تیاري نیولې ده. په ټاکنو کې به هېڅ راز کورني یا بهرني فشار ته تسلیم نه شو، بلکې د ولس حقوقو او رایې ته به ژمن وو)).

په داسې حال کې چې ټاکنیز کمېسیونونه د میزان په شپږمه د ولسمشریزو ټاکنو د تر سره کولو خبره کوي، د عنایت الله حفیظ په مشرۍ ټاکنیز ټیم په یوه خبري ناسته کې د ټاکنو د ځنډ غوښتنه کوي. نوموړی د یادې غوښتنې دلیل غیر عادلانه انتخاباتي سیالۍ گڼي. د ده په خبره، ځینې ټاکنیز ټیمونه له دولتي امکاناتو په استفادې هڅه کوي، چې ټاکنې د ځان په گټه وڅرخوي او په ټاکنو کې ښایي لاسوهنه وکړي. نوموړی وايي: ((ټاکنیز ټیمونه له دولتي امکاناتو استفاده کوي. دوی ښایي په ټاکنو کې درغلي وکړي او ټاکنې په خپله گټه تمامې کړي. له همدې امله ښه دا ده، چې ټاکنې وځنډول شي)).

خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د نوموړي غوښتنې ته په غبرگون کې وایي، چې اسناد دې وړاندې شي، څو ستونزو ته رسیدگي وشي.

د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره ټاکنیز کمپاینونه د اسد یا زمري په شپږمه پیل شوي وو، چې پای ته رسېدو ته یې کمې ورځې پاتې دي او تر هغه وروسته به ولسمشریزې ټاکنې تر سره کېږي. لا هم امنیت، د فساد موجودیت، له دولتي امکاناتو د ځینو نوماندانو استفاده او دې ته ورته نورې هغه ستونزې دي، چې د شفافو ټاکنو په لار کې یې ستر خنډونه بللی شو.

## د کندوز ښاریان: که امنیت ډاډمن نه شي، ډېری خلک به په ټاکنو کې برخه وانخلي



په داسې حال کې چې ولسمشریزو ټاکنو ته یوازې د گوتو په شمېر ورځې پاتې دي، په شمال ختیځ ولایت کندوز کې امنیتي وضعیت خلک اندېښمن کړي دي.

د کندوز ښاریان خبرداری ورکوي، که امنیت ډاډمن نه شي، نو ډېر خلک به په ټاکنو کې برخه وانخلي. دا په داسې حال کې ده چې د کندوز ښار درې اونۍ وړاندې د سقوط له گواښ سره مخ و، خو دولتي ځواکونه وتوانېدل چې د طالبانو برید په شا وتمبوي. د کندوز ښار اوسېدونکي نقیب الله ازادي راډیو ته ویلي، طالبان لا هم د ښار په څنډو کې حضور لري او دولتي ځواکونه باید د امنیت ډاډمنولو لپاره گام پورته کړي.

هغه ویلي: «موږ د ولسي جرگې په انتخاباتو کې د ناامنیو او د طالبانو د تحرکاتو شاهد وو او زیات شمېر خلکو ونشوای کولی رایه ورکړي. د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې هم خلک د ناامنیو له وېرې په ټاکنو کې برخه نه اخلي».

بلخوا د کندوز مدني فعالان وايي، دوی په وار وار د دغه ولایت د ناامنۍ مسئله راپورته کړې او له حکومتي چارواکو یې د کوټلو گامونو د پورته کولو غوښتنه کړې، خو حکومت ورته پام نه دی کړی.

په کندوز کې د مدني ټولنې د شبکې رییس عنایت الله خلیق ازادي راډیو ته ویلي، د ښار امنیت ته په کتو به په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د خلکو ونډه کمه وي.

هغه زیاته کړې: «که د کندوز روان امنیتي وضعیت ته رسېدنه ونه شي، زه فکر کوم چې د جمهوري ریاست انتخابات به د ولسي جرگې په شان له ډېرو ننگونو سره مخامخ شي او پردې سربېره به په انتخاباتو کې د خلکو گډون ډېر کمرنگ وي».

په ورته وخت کې د کندوز امنیتي چارواکي وايي، دولتي ځواکونه به د امنیت ټینگولو لپاره له خپل ټول وسه کار واخلي. د دغه ولایت امنیه قوماندان عبدالرشید بشیر ویلي، امنیتي ادارو د تلې ٦مې ولسمشریزو ټاکنو د امنیت لپاره پوره چمتووالی نیولی دی. بشیر زیاته کړې: «موږ شپه او ورځ هڅه کوو چې امنیت تامین کړو او موجوده گواښونه شنډ کړو، ترڅو انتخابات په ارامه فضا کې تر سره شي».

## شکایتونو کمېسیون: له ټاکلې مودې وروسته له نوماندۍ تېرېدونکي کاندیدان جریمه کېږي



د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون ویلي، له ټاکل شوې مودې وروسته د ولسمشریزو ټاکنو لپاره له نوماندۍ تېرېدل له قانون سره په ټکر کې دي چې تېروتنه حسابېږي او سرغړوونکي به یې له قانون سره سم جریمه شي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش له مخې، د لومړني نوملړ له خپرېدو وروسته، نوماندانو یوازې حق درلود چې د غویي تر دویمې له خپلې نوماندۍ تېر شي. ولسمشریزو ټاکنو ته د نوماندانو د وروستي نوملړ له اعلانېدو او د کمپاینونو له پیلېدو وروسته، تر اوسه دوه کاندیدان له خپلې نوماندۍ تېر شوي دي.

د دغو نوماندانو له ډلې زلمی رسول او شیدا محمد ابدالي هغه نوماندان دي چې د محمد اشرف غني په مشرۍ د دولت جوړوونکي ټیم په گټه له خپلې نوماندۍ تېر شوي دي. په ورته وخت کې د ټاکنو کمېسیون ویلي، له یادو نوماندانو یې غوښتي چې ورشي څو له خپلې نوماندۍ څخه د په شا کېدو په تړاو دوی ته وضاحت ورکړي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د نوماندانو لپاره یې د جریمې یو نوی میکانېزم ټاکلی دی. دغه کمېسیون که څه هم د جریمې اندازه نه ده ښودلې، خو زیاتوي، هغه کاندیدان چې په دې وروستیو کې له خپلې نوماندۍ تېر شوي، اړ دي چې ورکړل شوي دولتي امکانات او د مرمۍ ضد موټر بېرته ور وسپاري. بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، دغو نوماندانو تر اوسه کمېسیون ته له خپلې نوماندۍ د تېرېدو په اړه رسماً خبر نه دی ورکړی. د دغه کمېسیون مشرې حوا علم نورستاني ویلي، یو بل نوماند حنیف اتمر چې خپل ټاکنیز کمپاینونو یې ځنډولي، تر اوسه کمېسیون ته په ټاکنو کې د خپل گډون یا نه گډون په اړه وضاحت نه دی ورکړی. هغه زیاته کړې: «موږ نوماندانو ته یو مکتوب ور لېږلی او له هغوی مو غوښتي چې له نوماندۍ په شا کېدو حال موږ ته راکړي او خبر مو کړي، سره له دې چې موږ د رسنیو له لارې خبر شوي یو، خو موږ ته باید رسمي اسناد راکړي، موږ د خپل مکتوب ځواب ته په تمه یو».

په همدې حال کې کورنیو چارو وزارت ویلي، د کاندیدانو د امنیت له کبله یې هر نوماند ته درې د مرمۍ ضد او درې نور تعقیبي موټر ورکړي دي.

## الجبیر: د تېلو پر مرکزونو د بریدونو په ځواب کې به مناسب اقدامات وکړو



د سعودي عربستان چارواکو ویلي چې د خپلو تېلو پر تاسیساتو د وروستیو بریدونو په ځواب کې به مناسب اقدامات وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد د تېلو پر سترو تاسیساتو د سپټمبر په ۱۴مه بریدونه وشول چې پراخ زیانونه یې واړول. په یمن کې حوثي ملېشه وسله والو چې ایران یې ملاتړ کوي، د دغو بریدونو مسوولیت پر غاړه واخیست، خو ریاض او واشنگټن وایي چې د دغه برید تر شا د ایران لاس و.

د راپورونو له مخې، د وروستیو بریدونو له امله د سعودي عربستان د تېلو د تصفیې تقریباً نیمايي تاسیسات له کاره لوېدلي وو. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر یو ځل بیا پر ایران تور پورې کړی چې د هغوی د تېلو پر تاسیساتو په بریدونو کې یې لاس درلود.

نوموړي په دې تړاو په ریاض کې خبریالانو ته ویلي: «موږ ایران د دغه جنایتکار عمل مسوول گڼو او په مناسب وخت کې به ځواب ورکړو».

هغه زیاته کړې چې له ملگرو ملتونو یې غوښتي چې خپل کارپوهان ور واستوي او د پېښې په تړاو په څېړنو کې گډون وکړي.

د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې د څېړنو تر بشپړېدو وروسته به د داسې تشدد مناسب ځواب ورکړي.

په ورته وخت کې ایران د سعودي عربستان او امریکا له لوري پر دغه هېواد لگېدلي تورونه رد کړي او خبرداری یې ورکړی چې که برید پرې وشي، کلک ځواب به ورکړي.

د ایران د سپاه پاسداران انقلاب قوماندان جنرال حسین سلامي د ایران له دولتي ټلوېزیونه په وینا کې ویلي چې د ایران ځواب به حد او پوله نه لري.

هغه ویلي: «احتیاط وکړئ، موږ به هر تشدد کوونکي ته ځواب ورکړو، موږ به تر هغو چې تشدد کوونکی په بشپړ ډول له منځه ولاړ نه شي، د دښمن له ځپلو لاس نه اخلو».

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپټمبر په شلمه په سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو کې د امریکایي ځواکونو د متوسطې کچې له تقویتي پلان سره هوکړه وکړه. د امریکا د لویو درستیزانو د کمېټې مشر جنرال جوزف ډانفورډ وړمه ورځ وویل چې سعودي عرب او متحده اماراتو ته د امریکایي ځواکونو د استولو د پلان جزیات به وروسته څرگند کړي.

د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر په دې اړه ویلي چې سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو غوښتنه ورڅخه کړې، چې د هغوی د هوایي ځواکونو او د مزائیلو د دفاعي سیستم د پیاوړي کولو لپاره مرسته وکړي.

مارک ایسپر ویلي چې د ځواکونو تقویتي پلان د امریکا لومړی گام دی او د نورو اقداماتو امکان یې هم نه دی رد کړی.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جګړه




د وسلو د راکړې ورکړې کنټرول هم د طالبانو له لومړیتوبونو څخه و. ۱۹۸۰ ز لسیزه، میرام شاه کې د وسلو د سوداګرۍ یو لوی مارکېټ پرانیستی و چې د روسانو له یرغل څخه یې د امریکایي ځواکونو تر راتګه لا هم پرانیستی دی. طالبانو د ۲۰۰۷ ز کال په یوه اعلامیه کې لیکلي وو: ((د شمالي وزیرستان ټولو اوسېدونکو ته خبر ورکوو چې د وسلو سوداګري بنده کړي. په ګاونډي کورمه اجنسۍ کې پر جګړهییزو ډلو چې شیعه ضد او سني ملاتړي دي، هېڅ وسلې ونه پلورئ، خیبر کې پر لشکر الاسلام او انصار الاسلام ډلو هم وسلې مه پلورئ. د بلوچستان په ادم خېل او بکټې دره کې هم وسلې مه پلورئ. که هر څوک له دې قانون سرغړونه وکړي، پر جزا سربېره به یې وسلې او موټرونه ترې ضبط شي. نورو سیمو ته د وسلو لېږد مو کمزوري کوي او له امریکایانو سره مرسته کوي.)) هغوی د ۲۰۰۶ ز کال په سپټمبر کې له وزیرستان څخه د وسلو ویستلو د مخنیوي او دې سیمې ته د وسلو د راوړلو د هڅونې اعلامیه هم خپره کړه.

طالبانو د خپلو عوایدو لپاره له ځانګړو لارو کار اخیست. د محسودو سیمې طالبانو له هغو کاریګرو چې په خلیج هېوادونو کې به یې کار کاوه، خپلو کورونو ته په راتلو سره بډایه کسانو ۵۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې، غریبو کاریګرو ۳۰۰۰ کلداري طالبانو ته ورکولې.

افغاني طالبانو به خپلې چارې په پښتو ژبه، خو پاکستاني طالبانو خپلې چارې په اردو ژبه مخته وړلې، خو په اردو ژبه یوازې هغه کسان پوهېدل چې په پاکستاني دولتي ښوونځیو کې یې زده کړې کړې وې. په وزیرستان کې ډېری طالبان پښتانه دي، ډېر لږ یې رسمي زده کړې لري. د اردو ژبې له کارولو ښکارېده چې هغوی د پاکستاني افراطي ډلو تر اغېز لاندې راغلي وو.

د ملا محمدعمر خوښېږي چې په پاکستان کې د ټولو طالبانو د مشـر په نوم یاد شي. افغان طالبان چې ډېری یې له لوی کندهار څخه دي، پر پاکستاني طالبانو هېڅ کنټرول نه لري. د افغان طالبانو ټولیزه پاملرنه افغانستان ته ده، خو د پاکستاني طالبانو دلچسپي د القاعدې په نړیوال جهاد کې ده. پاکستاني طالبان د ځان لپاره عیب ګڼي چې په قومي او ملي مبارزه کې محدود پاتې شي. پاکستاني طالبانو د کرنل امام د وژلو د رد په پار د ۲۰۱۱ ز کال په پسرلي کې، یوه اعلامیه خپره کړه. په اعلامیه کې داسې لیکل شوي وو: ((په یاد ولرئ، موږ د پښتنو، پنجابیانو، عربو او ازبکو لپاره نه جنګېږو. د الله ج شکر ادا کوو چې موږ له ملي کچې لوړ فکر کوو، موږ د مسلمان ملت د یووالي لپاره کار کوو.))

حقاني شبکه

له مولوي جلال الدین حقاني سره د پاکستان اړیکې له کمونېستي کودتا او پر افغانستان له شوروي یرغل څخه پخوانۍ دي. پاکستاني حکومت د ډیورنډ کرښې په شاوخوا کې له حقاني شبکې سره اړیکې لرلې. د نورو جنګیالیو تر څنګ پاکستان، حقاني هڅولی و څو د ملت پال ولسمشـر سردار محمد داوود خان پر ضد ودرېږي. هغه پېښور ته نږدې په حقانیه مدرسه کې زده کړې کړې وې. له دې لارې هغه د پاکستان له سیاست سره بلد شوی و. حقاني په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې تر ټولو اغېزمن جنګیالی راووت.

میرام شاه کې یې د هغه نظامي اډه د بریا لوی راز و. پر دې سربېره چې په سیمه کې یې له قومونو سره کمې اړیکې وې، خو د هغه د ځدراڼ قوم ځینو غړو په شمالي وزیرستان کې ژوند کاوه. اسلاماباد هم هغه د اغېزمن قدرت کېدو لپاره پرې اېښی و. له همدې امله نوموړی ټولنیز، سیاسي او اقتصادي نفوذ شو. حقاني په میرام شاه کې د منبع العلوم په نوم یوه مدرسه جوړه کړه، له همدې لارې یې بیا په شمالي وزیرستان کې د مدرسو شبکه هم برابره کړه. له دې مدرسو یې خپل د روزنې کمپونو ته جنګیالي استخدامول او په ځایي سیاست کې یې رول څرګندېده چې تر ډېره له هغه سره ځایي ملایانو همکاري کوله. که څه هم میرام شاه لیرې پرته سیمه وه، خو د پاکستان له لویو ښارونو سره یې سړکونه نښتي وو، له همدې کبله، د حقاني لپاره په افغانسان کې د بریدونو او جګړې تر ټولو ښه اډه وه. ۱۹۸۰ ز لسیزه کې میرام شاه، د وسلو د راکړې ورکړې په بازار بدل شوی و. دا مهال د امریکا متحده ایالتونو او سعودي عربستان د پاکستاني استخباراتو پر لاس افغان مجاهدینو ته وسلې ورکولې.

حقاني چې په عربي ژبه یې رواني خبرې کولای شوی، له عرب داوطلبو جنګیالیو سره یې هم ښې اړیکې جوړې کړې وې. نوموړي خلیج هېوادونو ته د مرستو جلبولو لپاره ډېر سفرونه وکړل، متحده عرب اماراتو کې یې له یوې عربي میرمنې سره واده هم وکړ. له اسامه بن لادن سره یې هم ښه ملګرتیا لرله. هغه ورته په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې، د پکتیا په ځاځیو ولسوالۍ کې د مساده الانصار په نوم یو ټونل هم جوړ کړی و.

په لومړي ځل، ۱۹۸۷ ز کال، اسامه بن لادن د حقاني په همکارۍ او لارښوونه د افغانستان په سویل کې له روسانو سره په یوه سخته جګړه کې مخ شو. حقاني د ISI ځانګړی کس و چې د واشنګټن هم خوښېده. هغه د ریګن د حکومت پر مهال سپینې ماڼۍ ته سفر هم وکړ، له ټکزاس څخه د کانګرېس یوه غړي، چارلي وېلسن هغه ته د (ښه شخصیت څښتن) نوم ورکړی و. کله چې د واشنګټن او ریاض ډالرونه پرې زیات شول، هغه په شمالي وزیرستان کې سوداګري هم پیل کړه چې په ترڅ کې یې خورا ډېر ځایي نفوذ پیدا کړ.

دوام لري...

# سریلانکا

حشمت الله نوري

سریلانکا د آسیا په جنوب او د هند په جنوب ختیځ کې د شمالي عرض البلدونو د ٦ او ۱۰ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۵ او ۸۲ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۷۵۲۳٦ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۱۱۲م لوی هېواد دی.

د سریلانکا د جنوبي او جنوب لوېدیځو برخو هوا توده- لنده او د شمالي او ختیځو برخو هوا یې وچه- توده ده. د دغه هېواد د منځنیو برخو هوا چې غرنۍ جوړښت لري، معتدله ده. دغه هېواد د اورښت دوه عمده فصلونه لري، لومړی له مې څخه تر اګست او بل له نومبر څخه تر جنوري پورې.

سریلانکا د هند د سمندر تر ټولو ستر ټاپو دی، چې له شمال څخه جنوب ته ۲۷۰ کیلومتره اوږدوالی او له ختیځ څخه لوېدیځ ته ۱۴۰ کیلومتره پلنوالی لري. د دغه هېواد ساحلي څنډې اوارې، خو مرکزي برخې یې په غرونو پوښلې دي. د دغه هېواد زیاته برخه په تېره بیا ساحلي څنډې ځنګلونه لري.

د سریلانکا پلازمېنه د کولمبو ښار دی او ټولټال دغه هېواد څه باندې ۲۱ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۳۳۴ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۲۵ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۷٦ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

سریلانکا د اداري وېش له مخې پر نهو ولایتونو وېشل شوې ده. جفنا، کندي، واونیا، نیلاولي، ګالي، منار، پوتالام او چیلاوه یې مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی، اساسي قانون یې د ۱۹۷۸ ز کال د اګست په ۱٦مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر مایتریپلا دی، د دغه هېواد ولسمشر د شپږو کلونو لپاره په عامه رایو ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې ټول واک د ولسمشر په لاس کې دی، په سریلانکا کې د کابینې وزیران د ولسمشر لخوا د تشریفاتي لومړي وزیر په خوښه ټاکل کیږي.

د دغه هېواد ملي شورا یوه خونه لري چې ۲۲۵ غړي یې د خلکو لخوا د شپږو کلونو لپاره ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي. د دغه هېواد د قضایه قوې په سر کې ستره محکمه ځای لري، چې قاضیان یې د قضایه خدماتو د اعلی کمېسیون او ولسمشر لخوا ټاکل کیږي.

د دغه هېواد قانوني سیستم د انګلستان، هالنډ، روم، اسلامي عاداتو او عادي قوانینو له مخې جوړ شوی دی.

ملي ولسواکه جبهه، د تامیل ملي جبهه، ملي متحده جبهه، د خلکو د خپلواکۍ متحده جبهه او د سریلانکا د خپلواکۍ ګوند یې مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي. دغه هېواد د ۱۹۴۸ ز کال د فبروري په څلورمه له انګلستان څخه اخیستي او اوس هر کال دغه ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کیږي.

د خپلواکۍ په وخت کې سریلانکا چای، ربړ او د کورني لګښت لپاره وریجې تولیدولې. په ۱۹۷۰ ز کال کې د کرنې محصولاتو د دغه هېواد په صادراتو کې ۹۳ سلنه ونډه درلوده. سریلانکا په ۱۹۷۷ ز کال کې د رهبري شوي اقتصاد پر ځای د صادراتو او وارداتو لپاره د آزاد بازار یا مارکېټ د اقتصاد اصول ډګر ته راوویستل.

د خوراکي توکو پروسس، ټوکران او جوړې شوې جامې، څښاک توکي، د تېلي کمونیکشن وسایل او همدا راز د بیمې د موسساتو او د بانکونو شبکې په سریلانکا کې پوره وده کړې ده. په ۱۹۹٦ ز کال کې کرنیزو تولیداتو د سریلانکا په صادراتو کې ۲۰ سلنه برخه درلوده، په داسې حال کې چې ٦۳ سلنه صادرات ټوکران او ګنډلې جامې وې. په نوییمه لسیزه کې لومړی د دغه هېواد کورني ناخالص تولید وده ۱٦ سلنه وه، خو تر ۱۹۹٦ ز کال پورې د وچکالۍ او کورنۍ جګړې له امله دا رقم ۹ سلنه ته ټیټ شو.

د سریلانکا د ښارونو او کلیوالو سیمو تر منځ توپیرونه ډېر دي، دا توپیر ډېری په هغو سیمو کې ځورونکی دی، چې په تېرو ۲٦ کلونو کې په جګړو کې ښکېلې دي او پرمختیایي کارونه پکې نه دي شوي.

د سریلانکا دولت اوس هڅه کوي چې د کرنې په پراختیا او د کوچنیو او منځنیو فابریکو په جوړولو ډېره پانګونه وکړي، څو ملي تولیدات لوړ او خلکو ته کارونه پیدا شي. د سریلانکا دولت په عین وخت کې غواړي چې کورني او بهرني پانګهوال د سریلانکا په وروسته پاتې سیمو کې پانګونې ته وهڅوي او دوی ته حقوقي، اداري او امنیتي آسانتیاوې برابرې او یقیني کړي. د سریلانکا بودجه له څو کلونو راهیسې کسر لري، عامه خدمات کمزوري دي، اوږدو کورنیو جګړو په لکونو خلک بېځایه کړي، ملي تولیدات لږ دي، وزګارتیا ډېره ده او د ۲۰۰۹ ز کال نړیوال مالي بحران د دغه هېواد پر بودجه او پرمختیایي پروژو او پلانونو ناوړه اغېزه کړې ده.

په ۲۰۰۹ ز کال کې د سریلانکا کورنۍ جګړه پای ته ورسېده او ای ام اف موافقه وکړه چې دغه هېواد ته به ۲.٦ بلیون ډالره پور ورکړي. دغو پرمختګونو د سریلانکا د اسهامو پر مارکېټ ښه اغېزه وکړه، اوس دا مارکېټ د نړۍ د نامتو مارکېټونو په ډله کې ښه ځای لري، له دې سره د امنیت داډ ډېر شوی او پانګوال کار ته هڅېدلي ښکاري.

کیمیاوي محصولات، سیمنټ، کاغذ د لرګو پروسس، د نفتو چاڼ، ښیښه، خوراکي توکي، چای، کافي، بوره، بیسکېټ، بېړۍ، چرمي تولیدات، فلزي شیان، مخابراتي وسایل، ټوکران، لاسي صنعت، ربړ او ټایر د دغه هېواد مهم صنعتي تولیدات دي.

د سریلانکا ۱۵ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، پاتې نوره هغه یې څړځایونو، ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې سیمو نیولې ده. د سریلانکا ۳۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد نهه سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

وریجې، ګنې، حبوبات، تېل لرونکې دانې، چای چې په نړۍ کې دویم ستر تولیدوونکی هېواد دی، ربړ، قهوه، شیدې، هګۍ، میوه، سابه او غوښه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

امریکا، انګلستان، المان، بلجیم او هند د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي.

سریلانکا ۲۰ هوایي ډګرونه لري چې ۱۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. همدا راز د دغه هېواد د ټلیفون کوډ ۰۰۹۴ او د انټرنېټ کوډ یې EK دی، چې ټولټال یې دوه میلیونه کسان ورته لاسرسی لري.

په سریلانکا کې دوه دولتي او لس خصوصي ټلویزیوني چینلونه شته. په دغه هېواد کې بهرني ټلویزیونونه د کېبل او سپوږمکۍ له لارې د فیس په ورکولو لیدل کیږي. د خصوصي راډیوګانو ترڅنګ، نورې ورځپاڼې، مجلې، مهالنۍ او میاشتنۍ هم په دغه هېواد کې فعالیت کوي.

د سریلانکا له ۱۵ کلنو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري او وړیا ده.

د سریلانکا یا پخواني سیلون او سراندیپ تاریخ ۲٦ پېړۍ مخکې پیلېږي. هغه وخت سینهالیانو چې د شمالي هند له طوایفو څخه وو، د دغه ټاپو اصلي اوسېدونکي لاندې کړل او هلته یې حکومت جوړ کړ. د سریلانکا لومړني سینهالي پاچا ویاجایا نومیده چې له میلاد څخه مخکې په پنځمه پېړۍ کې یې ژوند کاوه. په ۱۲مه پېړۍ کې تامیلیان چې له جنوبي هند څخه د سریلانکا شمال ته راغلي وو، سینهالیان د دغه ټاپو جنوب ته په شا وتمبول او خپله یې په شمالي سیمو کې یو نوی حکومت جوړ کړ. د سینهالیانو او تامیلیانو تر منځ همغه دښمني تر اوسه روانه ده. په ۱۲مه او ۱۳مه پېړۍ کې مسلمان سوداګر دې ټاپو ته ورسېدل او څلور پېړۍ د دغه ټاپو سوداګري د دوی په لاس کې وه. دا وخت سریلانکا په اوو بېلابېلو برخو وېشل شوې وه چې هرې سیمې کولمبرو ته نږدې موقعیت درلود.

له پرتګالي حکمران المید څخه د موریانو او تامیلیانو پر وړاندې د حمایت غوښتنه وشوه، پرتګالیانو د سینهالیانو مرسته وکړه او په بدل کې یې د څو بندرونو د جوړولو او د سوداګرۍ د چارو امتیاز تر لاسه کړ. په سریلانکا کې د پرتګالیانو واکمني ۱۵۰ کاله وروسته د هالنډیانو په لاس پای ته ورسیده. هالنډیانو ۱۴۰ کاله د سریلانکا مهم ساحلي ښارونه په خپل کنټرول کې وساتل او د پوځیانو په زور یې پر خلکو حکومت کاوه. دا پوځیان د هالنډ د ختیځ هند د کمپنۍ استازي وو چې مرکز یې په امستردام کې و. دې کمپنۍ سریلانکا په دریو برخو وېشلې وه، شمال برخه چې مرکز یې په جفنا کې و، لوېدیځه برخه او جنوبي برخه. په ۱۹۴۲ ز کال کې د سریلانکا د خپلواکۍ هلې ځلې د سینانایاکا په مشرۍ پیل شوې. نوموړي د خپل هېواد لپاره داسې یو اساسي قانون تدوین کړ، چې د انګلیسي مقاماتو لخوا ومنل شو. له دې وروسته بیا په ۱۹۴۷ ز کال کې د دغه هېواد نوی اساسي قانون د همغه لومړني قانون پر بنسټ جوړ شو. د ۱۹۴۷ ز کال په ډسمبر کې د سریلانکا د خپلواکۍ سند د انګلستان د پارلمان لخوا تصویب او دغه هېواد د ۱۹۴۸ ز کال د فبروري په څلورمه نېټه رسماً خپله خپلواکي اعلان کړه.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو اړیکو په کتاب کې د سریلانکا پېژندګلوي هډو نشته او داسې انګېرل کیږي چې د دې دواړو هېوادونو تر منځ هېڅ وخت سیاسي اړیکې نه وې او نه هم اوس شته.

له افغانستان څخه تر سریلانکا پورې د هوا له لارې فاصله ۳۱۸۳ کیلومتره او همدا راز د کابل او کلمبو ښارونو تر مینځ د وخت توپیر یو ساعت دی.



همیانی

# د مالي خپلواکۍ لپاره د رابرټ کيوساکي نهه درسونه

**ليکنه: حميدالله حميدي**

مخکې له دې چې د پيسو تشه جيبي بکسه مو پر بډايې هغې بدله کړي، لومړی مو ذهن شتمن کړئ. ((رابرټ کيوساکي)) مالي خپلواکي د هر چا هيله او غوښتنه ده، خو له يوه ښه دليل سره. تاسو پر دې نه پوهېږی چې څه وخت له داسې مالي بحران سره مخ کېږی چې ټوله شتمني مو جارو کوي او د باد پر خوله يې ورکوي. نو له همدې کبله بايد د مالي خپلواکۍ اصول زده کړئ، بيا چې هر وخت غواړی مالي خپلواکۍ ته رسېدلی شی.

رابرټ کيوساکي؛ هغه کار پنځوونکی او پانګه‌وال چې په ښوونځي کې له ټولګي څخه و ايستل شو، اوس د پيسو او شتمنۍ په برخه کې يو تکړه ليکول او مفسر دی. د نوموړي (شتمن پلار، نېستمن پلار) کتاب په مالي پوهه يا مالي علم کې تر اوسه پورې لومړی مقام لري. کيوساکي په دې کتاب کې مالي خپلواکۍ ته د رسېدو او له مفلسۍ څخه د وتلو لارې ډېرې ښې او اسانه روښانه کړې او سپړلې يې دي.

دا هم مالي خپلواکۍ ته د رابرټ کيوساکي لس درسونه:

**۱- ټول مسووليت خپله واخلئ**

تاسو چې هره پرېکړه کوی، هرو مرو يوه پايله لري. ان کله داسې هم کېږي چې کېدای شي خپله ټوله شتمني پکې بايلوی. نو له همدې کبله بايد ټول مسووليت پر خپله غاړه واخلئ، څو له خپلې مالي خپلواکۍ څخه ساتنه وکړی. دغه خبره هېڅکله هم مه هېروئ، کومه پرېکړه چې تاسو نن کوی، راتلونکې مو ور سره تړلې ده. نو ښه ده چې خپلې ټولې مالي پرېکړې و ارزوی.

**۲- لګښتونه مو وڅارئ**

موږ او تاسو په داسې نړۍ کې ژوند کوو، چې ورځ تر بلې پکې د لګښتونو کچه لوړېږي او اړ يو چې زيات لګښت وکړو او پيسې مصرف کړو. د ډېر لګښت او يا زياتو پيسو مصرفولو عادت به ستاسو هغه خنډ وي، چې مالي خپلواکۍ ته د رسېدو په لار کې ور سره مخ کېږی. خپل ټول لګښتونه وڅارئ او مخکې له دې چې نوي شيان وپېرئ، له سره پرې غور او فکر وکړئ. کېدای شي په لومړي سر کې درته سخته وي، په تېره بيا هغه وخت چې پر ډېر مصرف باندې عادت شوي وی. خو که مو زده کړل چې څه ډول خپل مصارف کنټرول کړی، بيا نو مالي خپلواکۍ ته رسېدل درته ډېر اسانه کېدلی شي.

**۳- د بودجې درلودل اړين دي**

مالي خپلواکۍ ته د رسېدو لپاره د يوې بودجې درلودل او د مصارفو راکمول خورا اړين او ضروري دي. که غواړی چې له خپلې شتمنۍ څخه ساتنه وکړی، نو بودجه بندي کولی شي په دې برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي.

**۴- لومړی ځان ته پيسې ورکړئ**

مالي خپلواکۍ ته د رسېدو يو تر ټولو کليدي تمرين دا دی، چې لومړی د ځان لپاره کار وکړی. مخکې له دې چې پيسې په بانک کې وساتی، لومړی د ځان لپاره پرې کاروبار پيل کړئ. په دې کار سره به دوې لاسته راوړنې ولری. لومړی دا چې شتمن به شی او دويم هم دا چې ببرته به فقر ته نه ورګرځی. کومې پيسې مو چې نن سپما کړې دي، سبا پرې پانګونه کولی شی.

**۵- له پور (قرض) څخه ځان وژغورئ**

په قرض کې ډوبېدل هغه لار ده چې انسان په مالي برخه کې د ګواښ پر لوري بيايي. قرض د دې لامل کېږي چې لومړی مو له ببرون څخه مصرف کړي او له پښو مو وغورځوي. په قرض کې ډوبېدل مو له هيلو او پرمختګونو وروسته پاتې کوي. قرض مو له يوې ښې خوشاله راتلونکې څخه محروموي. له قرض پرته هم بايد خپلې موخې تعقيب کړئ او د رسېدو لپاره ورته له نورو لارو چارو کار واخلئ.

**٦- د شديدې اړتيا لپاره پيسې در سره وساتئ**

دا به هغه پيسې وي، چې له درې مياشتې وزګارتيا سره سره تاسو په ښې ارامۍ سره ژوند مخ ته پرې يوسی او د هېڅ شي په اړه اندېښمن نه شی. ان داسې چې که په دې وخت کې له ځينو داسې پېښو سره مخ کېږی، لکه په کور کې د يوه ضروري شي جوړول، د روغتون مصارف او يا هم نورې ناڅاپي پېښې. په ببره مو د دې شي څواب ووايی. د شديدې اړتيا لپاره پيسې ساتل، تاسو په راتلونکې خلکو ته له لاس نيولو ژغوري او قرض غوښتلو ته مو نه مجبوروي. دغه اطمينان د دې لامل کېږي، چې پر نورو ورځنيو چارو او خپل کارو بار باندې ښه تمرکز وکړی.

د دې کار لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې له خپلو مياشتنيو عوايدو څخه يوه برخه داسې ځانګړې کړئ او خپل ځانګړي بانکي اکونټ ته يې واستوئ، چې له ځان سره وواياست، د قيامت تر ورځې پورې هم دا پيسې نه مصرفوم.

**۷- تل د زده کړې په هڅه کې اوسئ**

په مالي برخه کې زده کړې کول بايد ستاسو لومړيتوب وي. په ورځني ډول ډېرې زياتې سرچينې شته چې تاسو په مالي برخه کې ترې يو څه زده کړی. د دې پر ځای چې د يوې موضوع په اړه په يوه ورځ ټول مطالب ولولی، هڅه وکړئ چې يوازې يو مطلب په پوره غور او دقت سره ولولی. څومره چې دغه شی په پرله پسې ډول تعقيب کړی، هماغسې به پرله پسې ګټه هم لاسته راوړی.

**۸- مشخصې او شفافې موخې ولرئ**

که تاسو مشخصه او شفافه موخه ونه لری، نو پر دې پوه شی چې مالي خپلواکۍ ته مو تر اوسه پورې هېڅ لار نه ده ټاکلې او دا به ستاسو لپاره ډېره سخته وي. که غواړی د ځان لپاره نوی کارو بار پيل کړی، ښه ډېر فکر پرې وکړئ او په دې برخه کې کار وکړئ. که غواړی يو ښه پانګه‌وال اوسی، نو دا زده کړئ چې څه ډول د ښو او بدو فرصتونو تر منځ توپير وکړی او ژر لاس پکار شی. کله چې تاسو مشخصه موخه ولری، هغه بيا د خپل وجود اصلي پتانشيل هم پېژندلی شي. يوازې د موخې ټاکل او ورته کار کول مو آرام او اسوده ژوند ته رسولی شي.

**۹- شبکه يي مارکېټېنګ**

تاسو کولی شی پر ډېرو کمو پيسو باندې د شبکه يي مارکېټېنګ يو شرکت جوړ کړی. د پيل لپاره دا ډېر ښه کار دی. سخته به وي چې په لږو پيسو او لږ وخت کې تاسو يو لوی کارو بار پيل کړی. که داسې يو کوچنی شرکت جوړ کړی، کولی شی ډېرې ښې تجربې تر لاسه کړی او يو وخت له يوه واړه کار پنځوونکي څخه پر يوه لوی سوداګر بدل شی. البته شبکه يي مارکېټېنګ د مالي خپلواکۍ لپاره هم تر ټولو ښه او غوره لار ده. تاسو کولی شی له دې لارې ډېرې ښې پيسې تر لاسه کړی.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کميسيون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کميسيون مستقل انتخابات

## په ټاکنو کې د ښځو د ګډون اړتيا

زموږ هيواد د ډېرو سترو او ارزښتناکو تاريخي، سياسي، او ټولنيزو پيښو په درشل کې دی. د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه نيټه ولسمشريزې ټاکنې ترسره کيدونکې دي، او خلک به يې له مخې د پنځو کالو له پاره خپل سياسي برخليک وټاکي، له همدې امله په ټاکنو کې د خلکو پراخه ونډه د زيات ارزښت وړ بلل کيږي، په ټاکنو کې خلک چې د هرې کچې او هره پوړه وي د هغوی ونډه اخيستنه زياته ضروري او اړينه ده، له دې ډلې په ټاکنو کې د ښځو پراخ ګډون بنسټيزه اړتيا ده چې د هغوی له ونډې پرته ښايي ټاکنې بې ارزښته، پيکه او نيمګړې وي.

د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د اساسي قانون له مخې د نارينه و او ښځينه و حقونه برابر ښودل شوي او په ټاکنو کې يې د هغوی پر ونډې تاکيد کړی. دغه څه د اسلام په سپيڅلي دين کې هم راغلي او په ټاکنو کې يې د نارينه و تر څنګ د ښځو پر برخې اخيستنې ټينګار کړی، او په دې برخه کې يې د هغوی برخه اخيستنه د بيعت په توګه ياده کړې، او په دې برخه کې هيڅ ډول شرعي ستونزه نه ليدل کيږي.

له ښه مرغه، په تيره يوه نيمه لسيزه کې په هيواد کې د ولسواکي د تمثيل په پړاو کې ميرمنې د نارينه و تر څنګ په ټولو سياسي، فرهنګي، ټولنيزو او اقتصادي برخو کې دريدلي او په ډيرو سياسي او ټولنيزو پرمختګونو کې د هغوی ونډه د پام وړ ده. ميرمنې کولای شي چې د روان وضيعت څخه په ګټه اخيستنې د خپل اوسني او راتلونکي ژوندانه په اړه پريکړه وکړي، هغوی اوس دا واک تر لاسه کړی چې په خپله خوښه خپل مشر وټاکي، او د خپل ځان او خپل هيواد برخليک په خپله تعيين کړي. هغوی غواړي چې په خپله د هيواد د راتلونکې له پاره پريکړه کونکې، مديرانې او راتلونکې مشرانې واوسي. او د دغه هيواد له ګوټ، ګوټ څخه خپل غږ اوچت او تر ټولو خلکو يې ورسوي.

د ټاکنو خپلواک کميسيون هڅه کوي چې داسې ټاکنې تر سره کړي چې ټول وګړي په کې برخه واخلي، او د جنسيتي تعصبونو څخه يې پاکې تر سره کړي. په بله وينا کميسيون په بام کې لري چې د خلکو ټول قشرونه، که ښځې وي که نارينه له تعصبه پرته په ټاکنو کې برخه واخلي او د خپلې خوښې کانديدانو ته رايې ورکړي.

خو تير ته په کتو چې دغلته ښځمنې په ډيرو برخو کې محرومې پاتې شوې وې او د افغانستان دوديزې ټولنې د يو شمير ستونزو له امله ميرمنې تر ډيره د سياسي برخليک په ټاکلو کې بې برخې وې د ټاکنو خپلواک کميسيون پتييلې چې ميرمنې به په راتلونکو ټاکنو کې پراخه ونډه ولري چې «يا ټاکنو ته ځانونه ونوموي» او يا هم «بل کس وټاکي». دا رنګه د هر اړخيز پرمختګ له پاره ضروری ده چې د ټولنې د ټول ځواک څخه ګټه واخيستل شي، چې بيا د ټولنې نيمايي ځواک ميرمنې جوړوي. افغان ميرمنو په ټولو برخو کې په پت، ميړانې، او سپيڅلتيا برخه اخيستې، او دا يې حق دی چې له نارينه و سره له برابرو سياسي او ټولنيزو حقونو څخه برخمنې واوسي.

د اسلامي اصولو له مخې نه نارينه لومړنی جنس بلل شوی او نه هم ميرمنې په دويم جنس کې يادې شوي؛ بلکې ښځينه او نارينه برابر حقونه لري، او د هيواد په ټولو سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي چارو کې يو شان ونډه لرلای شي.

له همدې امله د هيواد په ټولو ميرمنو غږ کوو چې د هيڅ ډول شرعي او قانوني محدوديتونو پرته د ۱۳۹۸ کال د تلې مياشتې د شپږمې نيټې په ټاکنو کې پراخه ونډه واخلي او د خپل راتلونکي ولسمشر په ټاکنو کې خپله وجيبه پر ځای کړي.

**د لا زياتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شميرې ته زنګ ووهئ.**
**ستاسو رايه، ستاسو راتلونکي**

معلوماتي پاڼه ۳

www.iec.org.af AfghanistanIEC

## بريښنا شرکت: له ازبکستان سره د لسو کلونو لپاره د بريښنا د پېرودلو تړون لاسليک شو

بريښنا شرکت د ازبکستان د اوبو او انرژۍ له وزارت سره د لسو کلونو لپاره په پخوانۍ بيه د بريښنا پېرودلو تړون لاسليک کړی دی.

دغه تړون په تاشکند کې د سيمه ييزو اقتصادي همکاريو سازمان «CAREC» د انرژۍ وزيرانو په لومړنۍ ناسته کې د افغانستان د بريښنا شرکت د رييس انجنير امان الله غالب او ازبکستاني چارواکو ترمنځ لاسليک شوی دی.

د بريښنا شرکت وياند وحيدالله توحيدي امريکا غږ ته ويلي، چې په دغه ناسته کې د منځنۍ آسيا له هېوادونو (ترکمنستان-ازبکستان) د بريښنا له شبکو سره د افغانستان د بريښنا شبکې يو ډول کولو «سنکرونايزېشن» هوکړه هم شوې، چې په دې ډول به افغانستان ٦۰۰ ميليون ډالره کلنۍ سپما کړي او د بريښنا د لېږد په برخه کې به د يوې څلورلارې ځای خپل کړي.

نوموړي زياته کړې: «په دې سره به خصوصي سکټور ته هم د بريښنا د سوداګرۍ اجازه او د بريښنا شبکې له لارې د بريښنا لېږد اجازه ورکړل شي، څو وکړای شي په هېواد کې دننه او يا ګاونډيو هېوادونو ته د بريښنا صادرولو چاره اسانه شي».

هغه ويلي چې د دې پروژې ټول لګښت اسيايي پراختيايي بانک ورکوي. د افغانستان د بريښنا شرکت د معلوماتو له مخې، دغه هېواد دا مهال له ازبکستان څخه ۳۰۰ ميګاواټه بريښنا واردوي. د دې ترڅنګ، افغانستان دا مهال ۷۰ سلنه بريښنا له ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او ايران څخه واردوي او همدارنګه د خپلې اړتيا وړ ۳۰ سلنه نوره بريښنا له خپلو داخلي سرچينو څخه توليدوي. له ازبکستان سره د بريښنا دغه تړون داسې مهال کېږي چې تېره اونۍ په شمالي ولايت بغلان او کندوز کې د وارداتي بريښنا د پايو د تخريب له امله، د کابل په ګډون ۱۱ ولايتونه د څو ورځو لپاره له بريښنا څخه بې برخې وو.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۷ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily





# المبارک

توريستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د ميوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.


دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې لومړۍ | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۳مه | ۴۳۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۳ | ۳۶ | ۳۲ | ۳۶ | ۳۱ |
| ۱۵ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۸ | لمر ختل ۰۵:٤۱ | ماسپښین ۱۱:٤۷ | مازدیګر ۰۳:۱٤ | ماښام ۰۵:۵۲ | ماخوستن ۰۷:۱۹

## نړۍ



## الجبیر: د تېلو پر مرکزونو د بریدونو په ځواب کې به مناسب اقدامات وکړو

۳

## راپورونه: د الشباب ډلې په برید کې ۱۸ سومالیایي ځواکونه وژل شوي دي

د راپورونو له مخې، د سومالیا په جنوب کې د الشباب وسله والې ډلې په برید کې د دغه هېواد ۱۸ امنیتي ځواکونه وژل شوي دي.

د فارس خبري آژانس د راپور له مخې، د الشباب تروریستي ډلې جنګیالیو پرون سهار د دغه هېواد په جنوب کې د حکومتي ځواکونو پر مرکز برید کړی، چې یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د سومالیا یوه لوړپوړي حکومتي چارواکي محمد عبدي ویلي چې الشباب ډلې دغه برید په مارکا ښار کې د امنیتي ځواکونو پر نظامي اډې کړی، چې ډېر کسان پکې ټپیان شوي هم دي.

نوموړي ویلي چې وسله والو لومړی د دغه مرکز مخې ته موټربم چاودنه کړې او وروسته یې له امنیتي ځواکونو سره نښته کړې چې دوه ساعته یې دوام کړی دی.



په ورته وخت کې الشباب وسله والې ډلې د دغه برید مسوولیت منلی او ادعا یې کړې چې په دغه برید کې ۲۰ امنیتي ځواکونه وژل شوي دي.

دې ډلې ویلي چې جنګیالیو یې د څو ساعتونو لپاره د دغه پوځي مرکز کنټرول په لاس کې درلود چې یوه اندازه وسلې یې هم ترې وړې دي.

د یادونې ده چې الشباب وسله واله ډله چې د ملګرو ملتونو په تور لیست کې هم شامله ده، وخت ناوخت د دغه هېواد پر امنیتي ځواکونو خونړي بریدونه کوي.

## د پاکستان په ګلګت کې د ترافیکي پېښې له امله ۲٦ کسان وژل شوي



د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد د ګلګت بالستان په سیمه کې د ترافیکي پېښې له امله ۲٦ تنه وژل شوي او ډېر نور ټپیان دي.

د فیض الله فراق په نوم د حکومت ویاند رسنیو ته ویلي، چې دغه پېښه د ګلګت بالستان په دامیر ولسوالۍ کې رامنځته شوې چې ۱۱ تنه پکې ټپیان شوي هم دي.

ځایي چارواکو ویلي چې د پېښې په قربانیانو کې د پاکستان د پوځ سرتېري هم شامل دي.

د دوی په خبره، د پېښې ټول قربانیان د یو مسافر وړونکي بس موټر سورلۍ دي او ټپیان د درملنې لپاره سیمه ییز روغتون چلاس ته لېږدول شوي دي.

پاکستاني «ډان» ورځپاڼې د دامیر ولسوالۍ د پولیسو د ویاند محمد وکیل له قوله ویلي، چې یاد بس موټر د زیات سرعت له امله د موټر چلوونکي له کنټروله وتلی او په دغه سیمه کې له غره سره لګېدلی دی.

ویل کېږي چې دغه مسافر وړونکي بس ورمه شپه د سکردو په نوم له سیمې څخه د راولپنډۍ په طرف حرکت پیل کړی و، چې په لاره کې له غره سره ټکر شوی او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

پاکستاني چارواکو همدارنګه ویلي، چې د ټپیانو د ژغورلو لپاره سیمې ته دوې هلیکوپټرې هم استول شوې دي.

د یادونې ده چې پر دغه لار ډېری وخت سیلانیان تګ راتګ کوي، چې ځینې وختونه پرې خونړۍ پېښې هم رامنځته کېږي.

## کراکر: گفت‌وگو با طالبان در غیبت حکومت افغانستان اشتباه بزرگ بود



راین کراکر، سفیر پیشین ایالات متحدهٔ امریکا در افغانستان می‌گوید که گفت‌وگوی واشنگتن با طالبان در غیبت حکومت افغانستان، یک اشتباه بزرگ بود.

آقای کراکر در یک گفت‌وگو با «فاکس نیوز» می‌گوید که حکومت افغانستان باید در گفت‌وگوهای امریکا و طالبان دخیل باشد؛ چون به باور او غیبت نماینده‌گان حکومت افغانستان، حکومت کابل را غیر مشروع نشان می‌دهد.

وی در این باره می‌افزاید: «بخاطری که اگر ما با طالبان گفت‌وگو می کنیم و حکومت افغانستان دخیل نباشد، ما مشروعیت حکومتی را زیر سوال می‌بریم که ما برای سال‌ها از آن به قیمت خون و دارایی حمایت کردیم».

به گفتهٔ کراکر، طالبان می کوشند تا قدرت را بدست بیاورند؛ اما امریکا نباید فکر پیروزی به این گروه را بدهد.

سفیر پیشین امریکا در افغانستان، هم‌چنان می‌افزاید که اگر طالبان حاضر به معامله نیستند، باید انتظار کشید تا زمانی که آن‌ها برای این کار حاضر شوند.

این دیپلومات پیشین امریکا، تأکید می کند که طالبان هیچ ولایتی را در افغانستان در اختیار ندارند: «ما نباید در این فکر باشیم که بازندهٔ جنگ هستیم؛ ما [بازنده] نیستیم و نه هم حکومت افغانستان [بازنده] است. افغانستان ۳۴ ولایت دارد، شما می‌دانید چند مرکز این ولایت در تصرف طالبان است؟ هیچ کدام شان».

او هشدار می‌دهد که نباید بار دیگر افغانستان به کسانی سپرده شود که فاجعه یی را برای امریکا خلق کنند: «به یاد دارید که افغانستان بزرگ‌ترین فاجعه را در تاریخ امریکا برای ما داد، ما نمی‌خواهیم که دوباره به کسانی افغانستان را واگذار نماییم که این فاجعه را برای ما به بار آورده بود».

این در حالی است که در اوایل ماه جاری میلادی، دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا گفت‌وگوها با طالبان را ملغا کرد.

## ژوند

## قوي ایمان مو زړه ته سکون وربښي



دا سمه ده چې په هېواد کې له کړکېچنو حالاتو سره کېدای شي ستاسې ژوند هم اغېزمن شي، خو خبره دومره هم د اندېښنې وړ نه ده. ځکه خدای پاک په خپله وايي، زه ستاسې ساتنه کوم. خدای پاک وايي، زه خپل بنده ګان له نعمتونو نه محرومووم. هڅه وکړئ چې تل پر دغه ډول خبرو تمرکز وکړئ. تمرکز مو باید پر دې وي چې ذهن مو په سم او مثبت ډول په حرکت راولي. په زړه پورې او ښه خبره خو دا ده چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره یوازې اقتصاد زموږ سرچینه نه ده، بلکې زموږ ژوند او مرګ یوازې د خدای پاک په واک کې دی. له ځان سره ووایئ، زه هېڅکله پر اقتصاد او بازار باور نه لرم. زه یوازې پر خپل لوی خدای باور لرم او بس. کېدای شي ځینې پر خپلو پیسو او دنده وویاړي او ځینې نور بیا د اقتصاد پوهانو په خبرو خوشاله او خپه شي، خو موږ پر هغه خدای پاک باور لرو چې ټول شیان هغه پیدا کړي دي. هماغه خدای پاک د خپل مخلوق رازق دی. کله چې تاسې له ځان سره دغه ډول جملې تکراروئ، هر ډول وېره مو له زړه وځي او سکون درته پیدا کېږي.

## مېرمنې له واده کولو وروسته ولې چاغېږي؟



ډېری مېرمنې له وداه کولو وروسته چاغېږي. دغه چاغوالی د دوی پر ظاهري جذابیت باندې ډېر زیات اغېز کوي. ځینې وايي چې له واده کولو وروسته په ښځو کې د چاغوالي یو لامل دا دی، چې دوی نور خپل اندام ته هغسې چې لازمه ده پاملرنه نه کوي، ځکه دوی فکر کوي چې خپلې موخې ته رسېدلې دي او نور یې څوک دومره د اندام او جذابیت په اړه فکر نه کوي. خو د چاغوالي قانع کوونکی دلیل به یې څه وي؟ لومړی لامل یې دا دی چې په ریښتیا هم دوی اوس لکه د نامزادۍ او له هغه څخه د مخکې وخت په پرتله د خپل اندام خیال نه ساتي او له څه ډول غذايي رژیم سره چې مخ کېږي، نوش جان کوي یې او بل دا چې یو بل ته په ډېرو خوړو ټینګار کوي. تازه واده شوي مېرمنې د پېغلتوب په پرتله لږ ګرځي را ګرځي چې دا یې هم چاغوالي ته لار برابروي او تر ټولو اساسي لامل یې د راحتۍ احساس دی. مېرمن چې کله واده شي او د خپل کور او اور څښتنه شي، د راحتۍ احساس کوي او کله چې سړی راحت او ارام وي، معلومه خبره ده چې وزن یې زیاتېږي.